پوښتنه او ځواب

آيا خور او لور ته د زکات ورکول جايز دي؟

(ژباړه)

عبدالله الحداد ته ځواب

پوښتنه:

السلام عليکم و رحمة الله و برکاته!

الله سبحانه و تعالی دې تاسو په خير لري او د الله او رسول په طاعت کې دې اوږد ژوند در په برخه کړي! د لوی عرش له څښتن الله تعالی څخه غواړم چې په داسې حال کې دويم راشده خلافت دولت راپه برخه کړي چې تاسو روغ او جوړ ياست.

پوښتنه مې دا ده: آيا خور او لور ته زکات ورکول جايز دي؟

ځواب:

وعليکم السلام و رحمة الله و برکاته!

١- اسلام د فقير نفقه واجب کړې او الله تعالی دا مسئله د فقير او هغه کس په اړه چې د فقير نفقه پرې واجب ده، بيان کړې ده.

د اقتصادي نظام کتاب په ٢٠۴ - ٢١١ پاڼو کې ذکر شوي:

«اساسي حاجات چې نه رفع کېدل يې فقر ګڼل کيږي، استوګنځی، ډوډۍ او جامې دی، تر دې پرته نور موارد له کماليه حاجاتو څخه شمېرل کيږي. نو هغه څوک چې کماليه حاجات يې مرفوع نشي فقير نه ګڼل کيږي.

اسلام د اړينو مواردو رفع کول فرض ګڼلي، هر څوک يې چې د مرفوع کولو وړتيا لري مرفوع دې يې کړي، او که يو شخص د مال د نه لرلو له امله دا موارد نشي مرفوع کولی يا هم د دغو مواردو د لاسته راوړلو امکان نه وي، د اسلام سپېڅلي دين پر نورو واجب کړې چې له ده سره مرسته وکړي تر څو يې اساسي اړتياوې مرفوع شي. د اسلام سپېڅلي شريعت له يوه شخص سره د مرستې د څرنګوالي موارد داسې بيان کړي دي:

**﴿وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ إِلَّا وُسْعَهَا لَا تُضَارَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُودٌ لَهُ بِوَلَدِهِ وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذَٰلِكَ﴾** [بقره: 233]

*__ژباړه:__ او د ماشوم پر پلار واجب ده چې هغوی (مېندو يا ماشوم ته شيدې ورکوونکو) ته په معروف ډول خوراک او لباس ورکړي. هيڅ څوک تر خپل وس په زيات څه مکلف نه دی، نه به مور د اولاد له امله له زيان سره مخ کېږي او نه به پلار ته د خپل بچي له امله زيان رسېږي. او پر وارث هم واجب ده (د پلار د مړينې يا ناتوانی په صورت کې) همدا کار وکړي (ماشوم ته د شيدو ورکولو په دوران کې د هغه مور ته خوراک او لباس ورکړي.)»*

يعني دا چې پر وارث د پلار په څېر واجب ده چې د شخص نفقه ورکړي؛ البته له وارث څخه موخه بالفعل وارث نه دی؛ بلکې له وارث څخه موخه هغه څوک دي چې د ميراث مستحق وي. که يو کس اقارب نه درلودل چې پر هغه يې نفقه واجب وي، نو نفقه يې پر بيت‌المال لازمه ده. د زکات په باب کې له ابوهريره رضي الله عنه روايت شوی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**«مَنْ تَرَكَ مَالاً فَلِوَرَثَتِهِ وَمَنْ تَرَكَ كَلاًّ فَإِلَيْنَا»** (مسلم)

*ژباړه: له چا څخه چې (تر مرګ وروسته) مال پاتې شو، نو مال يې د وارثانو دی او له چا څخه چې (تر مرګ وروسته) کل پاتې شو، نو هغه زموږ دی. (مسووليت يې زموږ پر غاړه دی).*

ګل هغه کس ته ويل کيږي چې زوی، پلار او مور ونلري.» پای

۲- هغه اقارب چې نفقه پرې واجب ده دا دي: د «موسوعه الفقهيه الکويتيه» په ۶۸-۸۲۶۷ پاڼه کې راغلي دي: «هغه کسان چې د زکات ورکړه ورته جايزه نه ده ... هغه څوک چې زکات ورکوونکی هغه ته منسوبيږي او يا هغه شخص زکات ورکوونکي ته د ولادت له اړخه منسوبيږي چې شخصي اصول يعنې پلار او مور او نيکه او انا پکې شامل دي؛ که وارثان وي او که نه وي، همداسي اولاد او د هغوی اولادونه په هره درجه چې ښکته وي پکې شامليږي. احنافو ويلي: په دې دليل چې د املاکو منافع يې سره تړلي دي او دا د احنافو او حنابلو مذهب دی.

خو نورو اقاربو ته د زکات ورکړه هيڅ ممانعت نلري لکه ورونه، خويندې، ترونه، ترورګانې، ماماګان، خالهګانې او اولادونه يې؛ که څه هم د ځينو د نفقې مسووليت د زکات ورکوونکي پر غاړه وي؛ دليل يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا قول دی:

**«الصَّدَقَةُ عَلَى الْمِسْكِينِ صَدَقَةٌ، وَهِيَ عَلَى ذِي الرَّحِمِ ثِنْتَانِ صَدَقَةٌ وَصِلَةٌ»**

*ژباړه: مسکين ته صدقه، صدقه ده په داسې حال کې چې پر ذوالارحام صدقه دوه (صدقې) دي:صدقه او صلةالرحم.*

دا د احنافو مذهب او د حنابلهو مذهب هم دی.

خو مالکيان او شافعيان هغه اقاربو ته د زکات ورکړه جايز نه ګڼي چې نفقه يې پر زکات ورکوونکي وي. هغه کسان چې نفقه يې واجب ده پلار او مور دي نه نيکه او انا او همداسي د لور او زوی نفقه واجبه ده نه د هغوی د اولادونو؛ او د زوی نفقه تر هغه مهاله چې صغير وي او د لور تر هغه مهاله چې واده وکړي او د خاوند مدخولبها واقع شي واجب ده؛نو هغه کسان چې د شافعيانو له انده يې نفقه واجب ده اصول او فروع دي.»

۳- څرنګه چې ګورئ چې لور ته د زکات په ورکړه کې د فقهاوو بېلابېل نظرونه دي؛ ځکه لور د فروعاتو له ډلې ده او پر دې سربېره د فقهاوو په اند ثابته ده چې زکات ورکوونکی بايد هغو کسانو ته د زکات له مال څخه څه ورنکړي چې نفقه يې پر ده واجب وي؛ بلکې د زکات له مال پرته له نور مال څخه يې ورکړي؛ اختلاف په دې کې دی چې له اصول او فروعاتو څخه پر کومو کسانو نفقه واجب ده؟

ځينو فقهاوو ويلي چې: «هغه کسان چې د زکات ورکړه ورته جايزه نه ده د شخص اصول دي لکه پلار، مور، نيکه او انا، که وارث وي او که نه وي، همداسي اولاد او د هغوی اولاد چې هر څومره کښته ځي. احنافو ويلي دي په دې دليل چې د املاکو ګټه يې سره شريکه ده، دا د احنافو او حنابلهو مذهب دی.»

ځينې فقها وايي: «هغه کسان چې د مالکيهو په اند يې نفقه واجب ده پلار او مور دي نه نيکه او انا، همداسي لور او زوی دي نه اولادونه يې او د زوی نفقه تر هغه چې صغير وي او د لور نفقه تر هغه چې واده وکړي او د خاوند مدخولبها واقع شي واجب ده»

ځينو فقهاوو ويلي دي: « هغه کس چې نفقه يې د شافعيانو په اند واجب ده اصول او فروع دي...»

اوس ستاسو د پوښتنې ځواب ته راځو چې ويلي مو وو:«آيا خور او لور ته د زکات له مال څخه زکات ورکول جايز دي؟»

۱- د لور په هکله:

الف - کله چې لور خاوند ونلري او له خپل پلار سره ژوند کوي، نفقه يې پر پلار لازمه ده. ځکه پلار يې بايد د هغې نفقه له خپل مال څخه ورکړي نه د زکات له مال څخه.

ب - کله چې لور خاوند ولري او خاوند يې د ژوند لګښتونه بشپړولی شي او د ښځې نفقه ورکولی شي، نو لور ته د زکات ورکړه جایز نه ده؛ که څه هم لور فقيره وي؛ ځکه لور د هغې د خاوند په اعتبار شتمنه ګڼل کيږي.

نووي په المنهاج کې ويلي دي: «هغه کس چې د اقاربو او خاوند په نفقې سره ژوند کوي نو سم نظر دا دی چې فقير او مسکين نه ګڼل کيږي.» پای

ج - کله چې لور خاوند ولري او فقيره وي او خاوند يې هم د نفقې له ورکړې عاجز وي، په دې صورت کې ابن قدامه په «المغني» کې ويلي دي: «که مېرمن د نفقې وړخاوند درلود او نفقه يې ورته برابروله، هغې ښځې ته د زکات ورکړه جایزه نه ده؛ ځکه خپل ژوند د خاوند په نفقې او مال سره پر مخ بیايي او دا مېرمن د هغه چا په څېر ده چې ځمکه لري او د ځمکې له محصول څخه د ژوند لګښتونه برابروي او که يې نفقه نه ورکوله، نو د زکات ورکول ورته جایز دي او دا ښځه د هغه چا په څېر ده چې عقار ملک لري خو ګټه ترې نه راځي، احمد همدې ته ورته مسئله ويلې ده.» پای

له دې اختلاف څخه د وتلو لپاره دې نظر ته ترجيح ورکوم چې که د لور خاوند فقير وي، د فقيرې لور خاوند ته دې د زکات له مال څخه ورکړل شي او هماغه خاوند دې خپلې مېرمنې ته له اخيستل شوي زکاتي مال څخه نفقه ورکړي؛ خو لور ته بايد له غير زکاتي مال څخه څه ورکړل شي.

۲- د خور په هکله ځواب دا دی:

که خور دې ستا په کور کې ژوند کوي او تاسو يې نفقه ورکوئ، نو جايزه نه ده چې د زکات مال مو ورکړئ، خو که خور مو خاوند لري او خاوند يې فقير وي، په دې صورت کې ښه دا ده چې د مال زکات مو ورکړئ؛ دليل يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم قول دی:

**«الصَّدَقَةُ عَلَى الْمِسْكِينِ صَدَقَةٌ، وَهِيَ عَلَى ذِي الرَّحِمِ ثِنْتَانِ صَدَقَةٌ وَصِلَةٌ»**

*__ژباړه:__ مسکين ته صدقه، صدقه ده په داسې حال کې چې پر ذوالارحام صدقه دوې (صدقې) دي:صدقه او صلةالرحم.*

دا هغه نظر دی چې زه يې ستا د پوښتنې د ځواب په برخه کې ترجيح ورکوم. هيله ده چې همدومره بسنه وکړي. الله سبحانه و تعالی تر ټولو ډېر عالم او با حکمته دی.

ستاسو ورور عطاء بن خليل ابوالرشته

د ۱۴۴۵ه.ق د ذوالحجې ۲۸مه

د ۲۰۲۴م د جولای ۴مه

ژباړن: تميم انصار